


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

فرید احمد « تسکین »
د نشر نیټه : ۱۳ نوامبر ۲۰۱۲م

# د خواشینی پیغام

په ډېرې خواشینۍ سره مو خبر ترلاسه کړ ،چې د پکتیا ولایت قومي مشر د ویر ځپلي افغانستان خواخوږی او وفادار بچی چې تل یې ټول عمر د سولې د ټینګښت،ملي یووالي او د خلکو د ستونزو د پریکون لپاره د جرګو او مرکو سر لاری پاتې شوی دی سناتور حاجي محمد ځمکنی تیره پنجشنبه د ۸۸کالو په عمر له دې پاتې نړۍ سترګې پټې کړې.

ښاغلی ځمکنی ۱۳۴۳ کال کې د پکتیا ولایت د شریف ولس لخوا د ولسي جرګې د استازي په توګه، د پخواني ټولواک محمد ظاهرشاه لخوا د انتصابي سناتور په توګه د ۱۳۵۲ او ۱۳۵۷ کلونو کې دکنړ ولایت د والي په توګه پاتې شوی دی.

نوموړی چې یو قومی، ملي، او بې پرې شخص و په هماغه وخت کې د خپل لیاقت له مخې دوخت دحکومت لخوا دجمهوري ریاست دقومونو او قبایلو چارو د رېس په توګه وټاکل شو او په ۱۳۶۴کال کې په افغانستان کې دسولې او ملې یوالي په خاطر دقبایلو لویه جرګه جوړه شوه چې ددی لویې جرګې ریاست هم ور له غاړې شو ترڅنګه یې دقبایلو دلویې جرګې د همیشني مشر په توګه هم دنده پرمخ بېوله.

اروابناد ځمکني دیوه کال لپاره دجمهوري ریاست دسرپرست په توګه هم دنده پر مخ بیولې ده.

د لویې پکتیا فرهنګي او خپرندویه ټولنې مسوولین او غړي د سناتور حاجي محمد ځمکني پرمړینه ژوره خواشیني ښيي په جرګو او مرکو کې د ده نه شتون لویه تشه ګڼي لایزال رب ج څخه ورته د فردوس جنت غوښتنه کوي اود کورنۍ سره یې په دې غم کې ځان شریک بولي او ورته د جمیل صبر غوښتنه کوي.

انا الله وانا الیه راجعون

د لویې پکتیا فرهنګي او خپرندویه ټولنې اداره

بازګشت به صفحه اصلی

www.said-afghani.org

هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارګان نشراتی صلح و تفاهم سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است